حبيب الله غمخور
۲۶/۰۷/۲۰۱۰

# دلوي ملاصاحب سره دزړه خواله !

ملاصاحب سلامونه اودرناوی وړاندي کوم .
داليک ځکه دانترنت دلاري درلیږم چي په رښتياسره مو ماته پوستی پته نده معلومه کنه اړتیائي نه وه چي لدی لاري دزړه خواله درسره وکړم .
پدې پوهيږم چي تاسو به دکمپيوټر استعمال ته وخت نلری اويابه موتراوسه په هغه ځان بلد کړی نه وي ،خو پدې باوري يم چي ستاسو دوستان اودفرهنگی چاروسولين به مو که په رشتيا تاسو دطالب جنگياليو مشربولي زمادغه غوښتنه چي دټول ولس اوزمان غوښتنه ده تر تاسو دوررسوي .
داچي بيا پدې هکله تاسو څه کوی داپه تاسو پوري اړه لري .
دازما لومړی ليک دی چي پدې کچه يو افغان مشر ته ئي ليکم اودليل ئي هم دادی چي يوسلسله کارونه دطالبانوپه نامه تر سره کيږي چي دواقعي طالبانو اوټولوپښتنودرنگ بدی لامل گرځی ،پدې خاطر مي اړينه وبلل ليک درته وليکم .
که تاسو پر طالب جنگياليو تاثير ولری اوهغوي په صداقت ستاسو خبره مني اوخپل وطن ورته گران وي نو دنوروپه څنگ کي دغه يوه ټکي ته متوجه شي چي څه وکړی .
ملاصاحب !
تيره ورځ چي ډير ناروغ هم وم انترنت پاڼوته مي سرورښاره کړ،هسي خو دخوښی خبر والله که پکښي واورې خو څه وکړو اوس مو نصيب دادی .
ديوشاعر دشعر دغه بيت مي راپيادسو وايي :
زه ورته جوړ چاپه نښه کړی يم کاني چي راځی زماپه سرلگی
دتاند په ويب پاڼه کي مي پر دغه خبر سترگي ولگيدې چي عنوان ئي وو((طالبانو په غزني کي د ولسي جرگي يو کانديد وتښتاوه)) يودم مي له خولي بې واره ووتل ،خدايه خير کړې دې تورلښگو بيا پښتون وژنه شروع کړل .
پدې خبرکي دغزني دسيمه ايزو چارواکو له خولي راغلي: (( چي تيره شپه د دي ولايت په قره باغ ولسوالی کي د ولسي جرگي راتلونکوانتخاباتوته کانديد نجيب الله د وسله والوطالبالولخوا له خپل کوره نامعلوم لوري ته تښتول شوی دی.
طالبانوتراوسه پوري څه نه دي ويلي خو په سيمه کي خبرو سرچينوتاند ته وويل چي نجيب الله طالبانو تښتولی. دغو سرچينو په دې خاطر چي په سيمه کي اوسي او د طالبانو د زورزياتي له ويرې نوم نه شي افشا کولی همدا راز وويل چي طالبانو د غزني ولايت په پښتني سيمو کي داسي فضا رامنځته کړې چي په نتيجه کي يي د ولسي جرگي راتلونکي دورې ته له غزني هيڅ پښتون بريالی نه شي . )) ملا صاحب !ځومره دافسوس اوزوورونکي خبره ده ؟ ولي پښتانه له دغه حق نه محروم پاته شي؟ دابياچادغو طالبانوته ويلي چي پښتون مه پرېږدی چي وکيل سي . که پښتانه پارلمان ته رانشي نوداپارلمان بيا څه ډول پارلمان بولی؟ دلته که ورته متوجه شی ملاصاحب دپردی تورلاس له ورايه ښکاري . ټول قومونه پدې هيوادکي حق لري خوهريودشميرپه اندازه ،دانوبياکوم انصاف اوعدالت دی چي پښتانه دپښتنو پوسيله له پارلماني حق نه محروم اوپه مرگ محکوميږي ؟
لوي ملا صاحب !
دتاند په همدی خبرکي دالاندي ټکي هم راغلي اوکه ورته ښه زيرشونو نه يوازي داچي سوالونه راپيداکوي بلکي دحل لارئي عام ولس له تاسونه غواړي ،ځکه خو ټول درنه خوابدي غوندي معلوميږي .
((د دي سرچيني له ادعا سره سم طالبان هماغسي چي دمکتبونو په برخه کي يوازي له پښتنو سره دښمني پالل او لا يي هم پالي د انتخاباتو په برخه کي يي هم هماغه شيوه غوره کړې ده .سرچينه وايي په غزني کي د محقق پلويان په ډېر منظم ډول انتخاباتي کمپاين پر مخ بيايي اوسر له اوسه يي مالومه کړې ده چي د کومي سيمي اوسېدونکي به کوم کانديد ته رايي ورکوي .
د تيري جمعي په ورځ په خوست ولايت کي هم د ولسي جرگي راتلونکوانتخاباتو کانديد مولوی سعيدالله سعيد دانتخاباتي کمپاين په مهال په يوه جومات کي په چاودنه کي له نولس تنو نورو سره ژوبل شو خو د کاري ټپونو له کبله سعيد وروسته په روغتون کي ساه ورکړه .)) هغه خودې خداي وبخښي ،مگر سوال دادی چي دا ولي پښتون مرگی گډشو په يوه اوبل ځاي ،په يوه اوبله بهانه همدا پښتون مری . يوئي دطالب اوالقاعدې سره په تړاو له هوانه ولی


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

اوتاسوئي ددولت سره په تړاو سرترېنه غوځوی . داخلک څه وکړي ؟چيري ولاړ سي ؟ټول غروته پورته شي؟اوکه وطن پرېږدي ؟ کورنۍ ئي ،ماشومان ئي خواړه غواړي ،کاليو اودرملوته اړتيالري ،داله کومه پوره کړي ؟
پدې باوری يم چي نور افغانان به هم خطونه درلېږی اوهمدا غوښتنه به لري چې ملاصاحب داتاسو ياست اوکه ستاسوپه نوم بيا کوم بل افغان دښمنه دا کارونه سرته رسوي ؟
ملا صاحب ! دامي بايد وړاندي ليکلې واي چي نه زه خپله اونه مي ليرې اونږدې خپلوان کانديد دي ،که رښتيا ووايم پر تاسو اودغه ټول افغان ولس مي زړه خوږېږي او ټول راته ګران دي ديوه غوړېدلې اوپر مختللې افغانستان ليوال اوپلوی يم دهرڅه په وړاندي په رڼو سترګو قضاوت کوم .نه غواړم چي افغان دافغان پلاس له خداي ورکړې ژوند نه محروم شي اوپدې کاردې بيا بهرنيان يا ګاونډيان چي هغوي هم بهرنيا ن دي خوشحاله سي . سخت زوربږم چي دپښتنو تاريخي دښمنان همدا پښتانه په پښتنو وژني . ملاصاحب دا ډارلم چي يوه ورځ به پر سپين ميدان سره پاته يواوبرخليک به مو بياهغه ټاکي چي نه ئي ته اونه ئي هم زه غواړم ،هغه به حکمتونه درته جوړوي ، پاچاهي به راباندي کوي اوموږ به ورته ګورو.
تاسوته معلومه ده چي پارلمان په هرډول شرايطو اودهرچاپه واکداری کي چي وی دټولو نيمګړتياوسره زموږ دولس لپاره ګټوردی ، خيرکه دموکراسي نشته خودغه چي درواغ يارښتيا درايو صندوقونه ايښودل کېږي اويو څونفره خپلې رايي وراچوي داهم غنيمت دی . نوکه تاسو پارلمان ته کانديد مړه کړی ،پوهېږی چي ګټه ئي چاته رسېږي ؟اوهمدا عام ولس ستاسو په وړاندي څه ډول فکر کوي ؟
زه تراوسه پدې باوري نه يم چې داکاردي ستاسو په هدايت سوی وي ځکه تر ګټه ئې تاوان ډيردی ،ممکن دازموږ خداي ناترسه ګاونډيان غواړي چي له يوې خوازموږپه وطن کي دغه دټاکنو له پروسې نه خلک بېزاره کړي اودبلې خواخپل سړی پارلمان ته ولېږي . که خبره داسي وي نوتاسوئي بايد مخه ونيسی .
په هر حال به پارلماني ټاکنې وشی ،تبليغات به وشي ،ددوي په سياليوکي به هم زما اوستا عزيزان مړه شي چکه دا موږ يوچي په وينو مولاتراوسه تنده نه ماتېږي ، په پارلمان کي به دوکيلانوپه نامه يو څوک ناست وي .
پس اړتيا ئې څه ده ؟دهغه کار چي مخه نشئ نيولاي پښتانه ئې قربانوی !
زمانظر خودادی په هغوسيمو کي چي تاسو تاثير لری ،اوستاسوپه وينااترنيمايي زيات افغانستان ستاسوتر تاثير لاندي دي ، دهغو کانديدانوسره مرسته وکړی چي يوازي غواړي دهمدې پارلمان له لاري دغه کړېدلي ولس اوخپل هيواد ته خدمت وکړي.درشوتخورو،جنګسالارو،پاټکيانواوهغوي چي دقومي ،ژبني اومذهبي سوداګری پر بنياد يوځل بيا غواړي ځان پر دې ملت وتپی که مخه ونيسی نو ټول به درنه خوشحاله وي .
زه له دې ځايه پدې ډاډه يم که تاسو وغواړ چي پارلمان ته سپېڅلي اوپاک افغانان راشي تاسو دخپلو سوله ايزو امکاناتونه په استفادې سره دغه ملي او اسلامي دنده په خورابری سره سرته رسولاي شی .
ملاصاحب !
زه نه غواړم خداي مکړه تاسو ته نصېحت وکړم ،خوستاسوديوه وطنداراو يوه افغان په توګه دا دځان حق بولم چي دقلم په ژبه ستاسو سره خپل نظر اودملت داسي غوښتنې چي ددې خاورې په ګټه وي شريکي کړم .
ملاصاحب ! دابه مو يوستر تاريخي کار کړی وي چي ټولوطالب جنګيالوته امر وکړی ،پدې شرط که هغوي ستاسو امر ومني چي دپارلمان په ټاکنوکي دعام ولس داسي ملاوتړي چي پاک اومومين مسلمان پارلمان ته ولاړسي،صادق اومستحق کسان وټاکل سي ،تر څوددغو بلدو رشوتخورو لاسونه دملت له ستونې نه رالنډ سي .
داطبعې ده چي په سياسي حرکتونوکي بهرنيو مرستو اوملاتړته اړتيا ليدل کېږي ،خوکه دغه مرستې دهدايت ورکولوپه بڼه اودخپلو ملي ګټوپر خلاف وي مه ئې منئ.
زه پدې پوهېږم چي پاکستاني جنرالان له يوه سره او ايراني اخوندان له بله سره دواړه اوبه خړوي اوخپل دخوښې ماهيان پکښې نيسي ،خوکه دغه اوبه ستاسو اويابل افغان پلاس خړې نکړي دابه زموږ لپاره لويه بريا وي .
ملاصاحب !
ډير مې زړه غواړي دزړه خواله درسره وکړم اوتاسو دخپلو انډيوالانو هغو نېمګړو کړنو ته متوجه کړم کوم چي زيان ئې موږ اوتاسو ټولوته رسېږي .مګر اړينه ئې بولم داوس لپاره ليک په دې ورستيوټکوراننغاړم ځکه تاسوبه هم داوږده ليک دلوستلو توان ونلری .که يو څوک زماليک په ځغاسته ولولي نوهاخواته به ئې وغورځوي ،وبه وايي دادکرزي نوکر بياله کومه شو،خوزما موقف دهرڅه په وړاندي لکه نوروتاسوته هم څرګند دی . تاسو ته معلوم ده چي زه تراوسه ددغه ليک دليکلو تر وخته دچانوکر نه يم اونه هم دداسي نوکری سره علاقه لرم په کومه کې چي زما دملت خواري اوزورېدنه اوبې عزتی نغښتې وي .
ډاډه يم چي تاسوبه هم پردې خبره راسره قانع ياست چي دخپل هيواد اوغيرتي ولس ملي ګټونه دملاتړخبري دې ته اړيستم تر څوتاسوته ليک وليکم ،دچاپه سپارښتنه او وړانديز مي ليک ندی ليکلی .
پر لوې څښتن مو سپارم


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ